## دلوګر نوموتي او وتلي څېرې / چهرهای مشهور و شناخته شده لوګر

### شهید پوهاند استاد محمد جان احمدزی



شهید پوهاند استاد محمد جان احمدزی در ۱۵ میزان سال ۱۳۲۵ در قریه سرخ آب ولسوالی محمد آغه ولایت لوګر پا به عرصه هستی گذاشت. وی از کودکی بچه هوشیار و نورانی بوده و تعلیم و تربیه اسلامی را از پدرش استاد حاجی محمد سلیمان کسب نموده بود و الی صنف دوازدهم تحصیلات اش را در مکتب دهاتی قریه سرخ آب و مکتب ولسوالی محمد آغه و در لیسه عالی ابن سینا به درجه عالی در سال ۱۳۴۳ به پایان رسانیده. بعداً با در نظر داشت شوق و علاقه اش مدرسه ابوحنیفه را نیز خوانده و از طریق سپری نمودن امتحان کانکور به پوهنځی شرعیات شامل گردیده و بعد از فراغت در برج جوزا سال ۱۳۵۷ به حیث استاد در کدر علمی آن پوهنځی تقرر حاصل نمودند. بعد از کودتای کمونستی ثور به پاکستان مهاجر گردیده و در آنجا از پوهنتون اسلامی پشاور به درجه ممتاز دیپلوم ماستری را بدست آوردند.

استاد نه تنها از داعیان برجسته اسلامی کشور بوده بلکه در سطح دنیا اسلامی نیز یک داعی مشهور اسلامی به شمار میرود و با درنظرداشت اخلاق و افکار اسلامی اش مورد توجه سران نهضت اسلامی قرار گرفت.وی همچنان در راه تعلیم و تربیه شاگردان وظیفه بزرگ را از آن خود نمود و به صورت علمی در راه مبارزین اسلامی جای پیشتاز را از آن خود نمود و اولین گردهمایی جوانان مسلمان با تلاوت استاد شهید افتتاح گردید. وی دارای آواز گیرا، دلنشین و دارای ذکاوت عالی علمی بودند و درجلسه تاریخی سال ۱۳۵۲ جمعیت اسلامی به حیث عضو شورای اجرائیه تعین گردید.

در زمان مهاجرت به حیث معاون جمعیت، رئیس فرهنگی و رئیس مالی خدمات شایان را انجام داده اند و درراه وحدت و یگانگی تنظیم های مجاهدین جدوجهد فراوان نموده است و در آوان مهاجرت در زمینه تعلیم و تربیه توجه خاص مبذول داشت و درمورد نصاب تدریسی و ایجاد پوهنتون دعوت و جهاد کار و کوشش فراوان نموده است و کتاب های اسلامی را تالیف و ترجمه و صدها مقالات را در روزنامه ها به نشر رسانیده، درکنفرانس های بین المللی جایزه های متعدد را گرفته است و بالاخره این داعی و مجاهد بزرگ اسلام در صبح یکی از روزهای آخر ماه مبارک رمضان حینیکه برای اداء نماز صبح و تفسیر قرآن کریم روانه مسجد بودند از طرف دشمنان دین مقدس اسلام به شهادت رسید.

انالله وانا الیه راجعون **(ویب سایت ولایت لوګر)**

## لوګر پېژندنه / لوګرشناسی

مونږ سره مرسته وکړئ، چې ستاسو کلی هم در وپېژنو!

### دبرکي برک ولسوالۍ

دبرکي برک ولسوالۍ د افغانستان د لوګر ولایت یوه ولسوالۍ ده، چې د همدغه ولایت د لویدیځ په لور کې پرته ده. یاده ولسوالۍ په لویدیځ او شمال لویدیځ لوري کې د میدان وردګو ولایت او د پل علم له ښار سره، په شمال او ختیځ کې له خروار او په سویل کې له خرخ سره ګډه پوله لري. د ۲۰۰۲ کال د یوې سرشمیرنې له مخې د دې ولسوالۍ د وګړو شمیر(۱۰۱۰۰۰) تنو ته رسیده او د دې ولسوالۍ مرکز هم د برکي برک ښارګوټی دی. برکي اوبدلو ته وایي او په هزاره جاتو کې یو ډول اوبدل شوي شال ته هم وایي، چې په لاسونو او بدل شوی وي.

برکي برک د لوګر یوه ولسوالۍ ده، چې د سجاوند تاریخي سیمه هم په کې پرته ده. ددې سیمې د نوم اینبودلو تاریخ داسې دی، چې په دغه سیمه کې دولس اورمړي کورنۍ میشته شوې او دغو کورنیو ددې سیمې له اصلي اوسیدونکو سره خپلوي پیل کړه او په خپلو کې یې سره وادونه وکړل. په دې مانا چې دغه دولس اورمړي کورنۍ دلته واو بدلې شوې. ځکه نو دغې سیمې ته دبرکي برک نوم نسبت ورکړل شو.

اورمړیان په لوګر او پېښور کې استوګن دي. په پېښور کې اورمړو ستاپ په نامه اوس هم یوځای شته ده. برکی د برګیستان له بنې څخه رغیدلې ده، چې د اورمړ د قوم دویم نوم دی. په افغانستان کې اته سیمې د برکي په نامه هم شته دي، چې ټولې یې د اورمړي قوم زېږندځایونه دي، دبیلګې په توګه په سرپل کې برکي په فاریاب کې برکي په پنجشیر کې برک برګیستان په غزني کې په لوګر کې برکی راجان او برکی برک د کابل په دهبوري او شهرآرا کې برکی په نامه ځایونه په کاڼي ګروم کې برګیستان یوه سیمه ده.



دغه قوم د اریایي ژبو له ډلې څخه ځانته بیله ژبه درلوده، چې اورمړي ژبه بلل کیده. خو دا مهال دا ژبه ژوندۍ نه ده، مړه شوې ده او ځای یې پښتو ژبې نیولې ده.

برکي برک هغه لرغوني سیمه ده، چې هلته ابومسلم خراساني خښ دی. (۲۵-۳۵ هـ) د نوموړي زیارت په همدې سیمه کې ده. د ابومسلم خراسانی زیارت د برکي برک د پل غازی په سیمه کې دی، چې ورکې د ابو مسلم خراساني ژوند او پیژندنه په ډبره کې کښل شوی دی. په اټکل ګمان سره داسې ویل کیږي، چې ابو مسلم خراساني له لوګر څخه ؤ. خو په دې اړه علمي څیړنې نه دي تر سره شوي.

## په دندوباندې خپلوان او دمسلک خلاف ګمارنې د احادیثو په رڼا کې:

رسول الله (ص) فرمایلي دي: هرچا چې د مسلمانانو د کومو چارو مسؤلیت پرغاړه واخیست بیایې دخپلوي او دوستۍ له کبله پر یوه څوکۍ او دنده څوک مقرر او وګماره (او یا یې همدارنګه له بیت المال څخه څه شی ورکړ) پر دغه کس دالله تعالی لعنت دی. دده به الله تعالی نه فرایض او نه نوافل قبلوي آن چې بیا به یې دوزخ ته ننباسي. (هغه مال چې د دوستۍ یا دخپلوۍ له کبله یې چاته ورکړي، دقیامت په ورځ به حاضره وي.) رواه حاکم

له ابوذر (رض) څخه روایت دی، ابوذر (رض) وایي: چې ما رسول الله (ص) ته وویل: ای دالله تعالی استازیه! ما پر یوځای کې پر دنده نه ګمارې؟ ابوذر (رض) وایي، چې زه یې پر اوږه پر خپل لاس وټپولم.

بیایې راته وویل: ای ابوذره! بیشکه ته ضعیف او کمزوی یې (دمسلک له مخې نه دتقوا له مخې، مثلاً دی به نجار ؤ، هلته به ګلکار ته اړتیا وه یا به آهنګر ته، یا به نظامي ته اړتیا وه لکه په اوسني وخت کې ډاکټر دانجنیر کار کله کولای شي.) او بې له شکه چې څوکۍ او ولایت یو امانت وي او دا دقیامت په ورځ دخوارۍ ذلت، رسوایي او دپښیماني موجب ګرځي. خو که دا څوکۍ یې په حقه سره لاسته راوړي وي او وړتیا یې ولري او حق یې پوره او سم اداء کړي وي، بیا دهغه لپاره خواري او پښیماني نه ده.) مسلم باب الکراهیة الامارة الغیر رقم الحدیث (۱۸۲۵)

رسول الله (ص) فرمایلي دي: (الله تعالی داغوره ګڼي، چې هرڅوک ستاسو څخه کوم کار کوي هغه ښه زده کړي.) له پورتني حدیث شریف څخه داسې ښکاري، چې پست، مقام، څوکۍ او هرډول بوختیا یو الهي نعمت او امانت دی. ددې امانت پوښتنه ترې کیږي. آن تر دې چې دانسان وجود او روح امانت دی، باید خیانت په کې ونه شي، که داخیانت هر ډول وي. خلاصه دا چې هر هغه کار له اصولو او قوانینو سره په ټکر کې وي، هغه خیانت دی.

**دمطلب رالیږونکی: دلوګر حج او اوقافو ریاست**

## وړوکې درد او غوښتنه

دهېواد کړېدلي او ځوریدلي ولس په دې هیله دي، چې روان ناورین او کړکېچ پای ومومي، خو مونږ تل دا ویناوې کړي او ترهغه برېده نه یو رسیدلي، چې د ولس هیلې مو راسپېړلې وي.

په هېواد کې روانه جګړه، دخلکو بېوزلېتوب او کمزوری اقتصاد، په حکومتي چارو کې د ځینو زورواکو او د قدرت ترلاسه کولو په لټه کې یو لړ ناقانوني غوښتنې، د سولې په اړه دروانو خبرو پایلې نامعلومې او په هېواد کې د جګړو زیاتوالی، دا هغه څه دي، چې افغان ولس په خپل هېواد کې له سختو ستونزو او اندېښنو سره لاس او ګرېوان کړې دي او خپل ژوند دخدای په تکل پر مخ وړي.

له یادو سیاسي، ټولنیز او اقتصادي ستونزو څخه هغه مهال افغانان وتلای شي، چې په خپلو کې سره روغه او جوړه وکړي او روانه جګړه ودروي. د پردیو هېوادونو د جوړجاړې په تمه کېني نه، بلکې افغاني غرور بهرنیو هېوادونو ته په ډاګه کړي، چې افغان ولس تل خپلمنځي اختلافونه د جرګو او مرکو له لارې حل کړې دي. نو په دې توګه په جګړو ښکیلې ډلې دې بین الافغاني جرګې ته ژمنې واوسي، چې له هېواده غوړیدلې ناورین پای ومومي.

راځئ هېوادوالو! په خپله مونږ د ولس درد خپل وګڼو، د بېوزلو لاسنیوی وکړو، ملي ګټې، چې د ټول ولس ملکیت دی، دخپلو شخصي ګټو لپاره ګټنه ونه کړو او دظلم ټغر له هېواده ټول کړو! بې ځایه زور او قدرت په دې وینې بهونکې ځمکې ودرول شي. د یتیمانو اوښکې پاکې کړو، د غمونو او ماتمونو لړۍ نور په خوښۍ او خوشحالۍ بدلې کړو.

بیا به د الله تعالی رحم پر مونږ شوې وي، که همدا د وحشت او بربریت لړۍ همداسې دوام پیدا کړي، نو لرې به نه وي، چې له دې زیاتو ستونزمنو حالاتو کې شپې او ورځې به سبا کوو او بیا به وایو چې ولې په مونږ دالله رحم نه اوریږي! ځکه مونږ ...

الله تعالی دې نور زمونږ په هېواد کې دایمي سوله، امن، یوالې او وحدت راولي او همدارنګه افغانانو چې په دوحه کې دتلپاتې سولې راتلو په موخه خپلمنځي ناستې پیل کړي، دیو سوله ئیز افغانستان په ګټه تمامې شي او روانې جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي.

**ستانکزی**

## ځوانانو پام مو شته!

په هېواد کې کرغېړنې جګړې زمونږ ګڼ شمیر ځوانان تیت او پرک کړل، څه په اور کې لولپه شول، څه بهرنیو هېوادونو ته کډوال شول. همدارنګه دهېواد دښمنانو له مخکې طرحه کړې توطیې او پلانونه زمونږ ځوانان یې له سواده محروم، په نیشه یې توکو روږدي، د یو او بل په نوم یې سره خپلو کې په جګړو ښکېل کړل او دافغانانو اقتصاد ته یې بې درکه زیانونه واړول، چې دغه لړۍ لا روانه ده.

د اوسني عصر ځوانان او راتلونکي نسلونه دې له تجربو ګټنه پورته کړي، چې د بهرنیو استخباراتي کړیو دسیسې دې شنډې کړي، پرې نږدي، چې زمونږ په ځوانه هستۍ نورې لوبې وکړي، بلکې د پوهې له مخې دې ورته غاښ ماتونکي ځواب ورکړي. راځئ ځوانانو! دملي یوالي سمبول واوسو، د هېواد دخاورې دښمن پر مخ درنه څپېړه به مو هلته ورکړې وي، چې د یوالي په شتون، خپل هېواد کې دجګړو پر ځای بنسټیزې او ښوونیزې چارې پیل او دوام ورکړو.

ځواني به هلته ثابته کړو، چې د هر افغان درد خپل درد وګڼو او د ګران افغانستان نه اور مړ او د سوکاله او ښېرازه ژوند نوي فصل پرانیزو. دغه آرمان ته د رسېدو لار تېنګه اراده او قوي عزم ته اړتیا ده، چې ټول ځوانان دغه او صاف پرځان ومني، خو که تش په خولې وایو او عمل ونه کړو، نو د ځوان احساس به مونږ کې نه وي او بې پلانه ژوند او وخت به هسې پرمونږ تېر وي او دښمن به تر دې زیات خپلو شومو موخو ته په آسانۍ توګه ځان رسولې وي.

**اداره**

## خلک او فیسبوک

**Sahil Mangal**



"ابراهام لنکن خپل بوټونه پاکول چې ناڅاپه د بل هېواد یو سفیر پرې ورننوت، هغه چې لنکن د بوټونو پر پاکولو ولید، په حیرانۍ یې ترې وپوښتل:

- ته بوټونه په خپله پاکوې!؟

لنکن ورته وویل:

- هو! خو ستاسې په شان د نورو بوټونه نه پاکوم!" **کاپي**

**M Rahim Stanikzai**



باورهای ناپسند و غیر اسلامي درجامعه افغانی!

1. به بد دادن دختران؛
2. بي مسؤلیتی در مقابل زنان بیوه؛
3. محروم ساختن زن از میراث؛
4. غیرت های بیجا؛
5. طویانه؛
6. عدم رضایت دختر در عقد نکاح؛
7. قتل های ناموسی؛
8. رقابت های بیجای خانوادگی؛
9. عدم پرداخت مهریه زن؛
10. عدم تشخیص محارم در روابط خانوادگی؛

**عبدالاحد فیضی**



مطالعه کتاب در هر زمان کتاب خوان های فعال همیشه نسبت به کسانی که مطالعه ندارند فعالیت های خیریه و داوطلبانه بیشتری دارند. مطالعه از ما انسان های خوبی می سازد که همیشه آماده کمک و یاری به نیازمندان هستند.

**احمد نعیم دوستی**



یک تیرتنها وقتی میتواند پرتاب شود که کمان را به سمت عقب بکشید.

وقتی زندگی شما را باسختی ها به سمت عقب می‌کشد، می‌خواهد شما را به سمت چیزی عالی پرتاب کند.

## محراب تاریخی مسجد چرخ

محراب زیبا پیکر چوبی به رسم الخط کوفی با نگارش از آیات قرآنکریم مزین بوده است در یکی از مساجد جامع ولسوالی چرخ ولایت لوگر که بنام مسجد الجامع مزار یاد و شهرت دارد نصب و جاگزین گردیده که این محراب به صدها سال قدامت تاریخی دارد و آن مبین و گواهی دهنده رویداد های فتوحات اسلام را ثابت میسازد.



گفته میشود که محراب متذکره در عصر خلافت حضرت عثمان (رض) و آغاز نهضت اسلامی توسط مبارزین و مجاهدین حماسه آفرین و گسترش دین مقدس اسلام ساخته شده است.

**ترتیب کننده: محمدی**